مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

سید عبیدالله نادر

۲۰۱۹/۰۴/۲۰

# نیمګړی دنیا

څوک د نیمګړی ارمانو سره ځي
څوک د دردونو طوفانو سره ځي
څوک وی بی باکه له حساب و کتاب
څوک د ګناه، له سیلابو سره ځي
څو بی احساسه بی نشانه شی مړ
څوک د احساس د غلبلو سره ځي
څوک تیروی، په بیدردی خپل عمر
څوک د دردونو، طوفانو سره ځي
تل په دنیا کي ، بیدران پاتی وي
احساس خاوند، عالی فکرو سره ځي
څوک بی خبره ،له رموزه د عشق
څوک یي په شړنګ ، د زولنو سره ځي
څوک وي خوشحاله ، په دوام کي د عمر
څوک د دنیا نه ، د تو بو سره ځی
چا ته یو ګوټ هم، د طالع نه رسی
څو ک ارمانونو ، ډک جامو سره ځي
چا سره نه وي ، د بشر درد و غم
څوک یي په غم کي ، اندیښنو سره ځي
څوک نه لری، په خپل خاطر کي ملال
څوک یو دفتر، د خاطرو سره ځي
چا سره نه وي ، په زړګي داغونه
څوک د زخمي زړونو، داغو سره ځي
چا سره نه وي ، پّه سترګو کي نم
څوک یي د اوښکو دریابو سره ځي
تل وي غمجن ، دا غمخواران د بشر
چی له دنیا نه ، ارمانو سره ځي

سید عبیدالله نادر
کال ۱۳۷۷پیښاور



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ